

له تحقیق کوونکي سره باید څه ډول مخ شو؟
Download from:aghalibrary.cm
ترټولو ساده سړی د تحقیق کوونکي فریب خوړلی شي
ژباړونکی: یاسر الخراساني

يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا خُذُوا حِذْرَكُمْ فَانْفِرُوا ثُباتٍ أَوِ انْفِرُوا جَمِيعاً

ژباړه: ای هغو خلکو چی ایمان مو راوړی! احتیاط وکړئ او چمتو واوسی، ډلی ډلی او یا ټول (دجګړی لپاره) راووځئ

# له تحقیق کوونکی سره باید څه ډول مخ شو؟!


راټولوونکی: جلیبیب قندهاری – ساسان میر توکلی

ژباړونکی: یاسرالخراسانی

## ⇐ د نیول کیدلو مرحله:

- ستا په کور یا ستا د کار په ځای به حمله وکړی، یا به دی پارک او کوڅو کی ونیسی، پدی مهال یی که چیری له تا څخه وغوښتل چی په یوی ورقی امضاء وکړی نو دا کار ونکړی، پدی امضاء به په تا ټول شوی تورونه ته پخپله امضاء کړی، همدارنګه هغه شیان چی ستا له ځای څخه یی ګیر کړی او په ورقی کی یی درج کړی اقرار به پری وکړی چی د اقرار په ځای باید د تحقیق پر مهال تری منکر وی،
- تا به په ټیلو ټیلو د موټر په طرف بوزی، یا امکان لری چی د موټر په صندوق کی دی واچوی، یا دی په ځمکه کش کړی، یا به دی د ټوپک په کنداغ وهی، یا به دی سترګی او لاسونه وتړی او تر مرکزه به ستغی سپوری درته وایی،
- تا به مربوط بخش ته تحویل کړی، ستا سترګی او لاسونه به د مؤقت وخت لپاره خلاص کړی، بیا به له تا څخه وغواړی تر څو خپل کالی بدل کړی، له تاسره د موجودو وسائلو تفتیش به وکړی چی بعضی به یی د اماناتو شعبی ته تحویل کړی، بی له ځنډه او یا لږ وروسته به ستا ویښتان لنډ کړی او د یوه مجرم په څیر به له تا څخه له هری خوا عکسونه اخیستل کیږی چی وروسته به ستا د ګوتو نښی هم واخیستل شی،
- بیا به دی لاسونه او سترګی دروتړی، په وهلو ټکولو به دی د بندیخانی یوی خونی ته بوزی، تر خونی به دی څو ځلی تاو راتاو

کړی او څو ځلی به دی له دروازو او زینو کښته پورته کړی تر څو ته داسی فکر وکړی چی ته یوه وحشتناک ځای ته بیول شوی یی تر څو ته خپله روحیه له لاسه ورکړی،

- له تحقیق څخه وړاندی به څو ځلی تا ووهی، کله به تاته فرصت مساعد کړی چی د نورو کوکو او بغارو آوازونه واوری، یا به دی په بعضی خونو کی سترګی خلاصی کړی تر څو د شکنجی وسایل دروښیی،
- تاته به اجازه نه درکوی تر څو په لوړ آواز خبری، تلاوت او یا لمونځ وکړی، تر څو د زندان وحشی سکوت مات نشی، یوازی د پنجری د دروازو غږونه به د نورو بندیانو د انتقال پر مهال اوریدل کیږی او بس،
- خپل ځان د قران کریم په تلاوت او حفظ کولو مصروف کړه، که دی وکولی شول چی د ساتونکو د خبرو یا د انتقال پر مهال په لوړ آواز قرآن کریم تلاوت کړی یا په لوړ آواز خبری وکړی تر څو د نورو بندی ورونو د آرامتیا سبب وګرځی او مصنوعی سکوت مات شی،
- په اوله یا دوهمه ورځ به له تا څخه تحقیق ونکړی مګر دا چی عجله ولری، ددوی له نظره وخت ارزښت نلری، هر څه به په کراری تیریږی او کوشش وکړه چی د جهاد هغه روحیه چی ته یی له منافقینو څخه بیل کړی یی له ځان سره وساتی او له لاسه یی ورنکړی،

- ستا سترګی او لاسونه به وتړی او په کشولو کشولو به دی له خونی څه راوباسی پداسی حال کی چی شاوخوا به دی عسکرو چاپیره کړی وی،
- عمدا به دی له داسی ځایو څخه تیر کړی چی د نورو بندیانو چیغی او فریادونه واوری،
- ته د خوړلو، څکلو او نورو انسانی حقوقو حق لری خو پدی ځای کی دغه حقوق نه مراعت کیږی، بلکی برعکس ددی لپاره چی اقرار وکړی دا شیان به له تا څخه واخیستل شی، په خاصه توګه دوی به تا خوب ته نه پریږدی، خو ته باید مقاومت وکړی،
- په خپله خونه کی د الله تعالی د ذکر او په قرآن کریم زړه ته آرامتیا وروبخښه، (الا بذکر الله تطمین القلوب) دغه خونه هغه ځای دی چی ته یی له نوری نړۍ او نورو انسانانو څخه لیری کړی یی،
- کله کله بعضی درواغجنی خبری درته کوی، هیڅکله ددوی په خبرو باور مکوه، هیڅکله داسی تصور ونکړی چی یوازی یی، الله تعالی له تا سره دی څکه تا خپل ځان د لایزال ذات د دین په لیاره کی په خطر کی اچولی، نو هغه هم حتما اوس یا ځنډ ستا مرستی او نصرت ته راځی (ولینصرن الله من ینصره) په یاد لره چی لدی ځایه بهر ستا مجاهد وروڼه تاته دعاګانی کوی، د جهاد او قتال کاروان ستا په نیول کیدو ندۍ تم شوی، ستا د کورنۍ او

خپلوانو حوصله ستا په صبر او ثبات نوره هم لوړیږی او ستا د خلاصون لپاره هره ممکنه چاره لټوی،

- وروسته به د تحقیق مراحل شروع شی، یو مجاهد له خپلو لویو اهدافو او له طاغوت څخه د سرکشۍ له حربی او وسلی څخه بله وسله له ځان سره نلری، یوازی او یوازی ستا همدا روحیه او سلاح د هغه مامور په مقابل کی کافی ده چی د خپل میاشتنی معاش په انتظار ناست وی او اوس له تا څخه تحقیق کوی، دوی هیڅ عقیدی او هیڅ ارزښت ته ندی تړلی، ددوی قدرت تر میاشتنی معاشه پوری منحصر دی، دغه مامور د زندان دیوالونو او د زرګونو عسکرو په محاصره کی احاطه دی، محدود اختیارات لری چی نشی کولی له هغو څخه سرغړاوی وکړی،
- د تحقیق ځای به زیرزمینی وی، ممکنه ده د تحقیق کوټه داسی یو ځای وی چی هلته د میز تر شا یو تحقیق کوونکی ناست وی، تا به لده څخه لږ لیری ودروی ددی لپاره چی پر میز پرتی ورقی ته ونشی لوستلی، سترګی به دی خلاصی کړی او یا شاید په تړلو سترګو له تا څخه تحقیق وکړی، ممکن تا پر یوی څوکۍ کښینوی او کله کله هم تا د شکنجی خونی ته یوسی او هغه لرګۍ تاته در وښیی چی په بل زندانی یی مات کړی او عسکر تاته سپکی سپوری ووایی او یا تا په لرګی ووهی، دوی اکثرا پدی حالت کی خپل مخونه پټوی تر څو ویره او حشت پر تا مسلط کړی، خو ته باید ونه ویریږی ځکه دوی د عظیم رب د عظمت په مقابل کی یو

مچ هم نه حسابیږی ځکه ددوی یوازینۍ لاسته راوړنه میاشتنۍ معاش او د خپلو رئیسانو خوشحاله کول دی، پدی مطمئن شه چی په باطن کی دوی تا له خپل ځان څخه لوړ او با عزته ګڼی، ستا د کلکی عقیدی، کلک ایمان او جهادی روحیی له کبله دوی ځانونه ذلیل احساسوی ځکه تا د همدوی په مقابل کی د الله تعالی په حکم قتال او جهاد شروع کړی حتی که دوی ستا په مقابل کی بی ادبی هم کوی خو بیا هم دوی خپل ځانونه حقیر او ټیټ ګڼی،

## ⇐ تحقیق کوونکی او تحقیق:

- د هر څه له لیکلو او امضاء کولو کلکه سرغړونه وکړه،
- ډیر کوچنی معلومات چی ستا په نظر بی ارزښته دی خو تحقیق کوونکی ته ډیر مهم دی،
- په یاد ولره که چیری دغه تحقیق څومره هم اوږد او طولانی وی خو یوه ورځ به پای ته ورسیږی، نو ډیره بهتره خبره به وی چی بی له اقرار او تسلیمۍ څخه په یوی خوږی خاطری بدل شی،
- په اوله ناسته کی تحقیق کوونکی چی څه معلومات ستا په اړه راټول کړی تاته رابرسیره کوی، دا ټکی په کلکه په ذهن کی وساته چی دغه تحقیق کوونکی ستا په اړه ډیر معلومات نلری بلکی یوازی او یوازی داسی ښیی چی دی تا په ټوله معنی پیژنی، دی ستا په روحیی وضعی نه پوهیږی او هڅه کوی چی ستا له

خبرو څخه ستا د روحیي وضعی معلومات ترلاسه کړی، ددی لپاره چی له تاسره د ځان په ګټه مبارزه وکړی نو غواړی چی پوه شی چی ته څومره پخپل ځان ډاډه یی، هغه نه پوهیږی چی ته مقاومت کوی که اقرار، نو په همدی اساس په اوله ناسته کی داسی کار، رویه او سرپیچی وکړه چی دی پوه شی چی ته مقاومت کوی،

- دا هیره نکړی چی تحقیق کوونکی د میاشتنی معاش اخیستونکی دی، له تا څخه تحقیق هغه ته یو زړه تنګوونکی او تکراری کار دی، دده قدرت او روحیه له هغو پیسو څخه سرچینه اخلی چی د هری میاشتی په آخر کی لاسته ورځی نه دده له شخصیت څخه، نو له همدی امله آخر هم تنګیږی خو ته هغه څوک یی چی دده په مقابل کی ولاړ او ستا قدرت او مقاومت ستا له ایمان او کلکی جهادی ارادی څخه سرچینه اخلی، د هغه رحیم او قادر ذات په لیاره کی کار کوی چی له تا څخه هر وخت خبر دی، یوازی او یوازی له هغه څخه د مزد او اجری انتظار لری، نو له همدی امله قوی او محکم واوسه،
- مطمین اوسه چی ستا او د تحقیق کوونکی مبارزه یوازی د تحقیق په آخر کی پای مومی چی دا ستا په مقاومت پوری تړلی ده، د تحقیق کوونکی کامیابی په تا، ستا په جهاد، دعوت او ستا په ورونو کامیابی ده، نو دی ته متوجه شه چی جهاد ستا دلاسه ضربه ونه خوری،

- هر وخت دا په یاد لره چی تحقیق کوونکی ستا دوست نشی کیدلی بلکی د هغه وظیفه هغه ته امر کوی چی د ضرورت په اساس تاته خپل ځان کله دښمن، کله خواخوږی او یا کله هم مهربان دوست معرفی کړی، نو دده د دوستۍ او وعدو فریب ونه خوری حتی که قسم هم درته یاد کړی، تحقیق کوونکی په حقیقت کی ستا یو وحشی دښمن دی،

مهمه خبره: یوازی او یوازی یو ساده لوح انسان د تحقیق کوونکی فریب خوری،

- د تحقیق پر مهال هیڅکله د هغه خبری مه قطع کوه ځکه دا کومه فایده نلری،

## ⇐ د تحقیق کوونکی کامیابی او یا شکست:

په آسانۍ سره کولی شی چی تحقیق کوونکی غلط او منحرف کړی،

- کله چی دوی پوه شی چی ته دروغ وایی، نو ته مه نارامه کیږه او خپله همدا طریقه مه بدلوه، که چیری دوی ستا بی احترامی او یا توهین وکړ نو هیڅ پروا مه پری کوه ځکه ستا احترام دوی ته مهم ندی، یوازی مهمه خبره داده چی ستا له لوری جهاد او دعوت ته کوم ضرر ونه رسیږی، په یاد لره چی ستا مقاومت ته هغوی د زړه له کومی احترام لری اگرچه په ظاهره به دوی دا بی ادبی ګڼی، دوی هغه چاته ډیره په ټیټه او حقیره سترګه ګوری چی اقرار ورته کوی، خپلو ورونو سره خیانت او د هغوی رازونه افشاء

کوی، پدی حالت کی ددوی ښه اخلاق او یا احترام یوازی تظاهر دی چی تاته دوکه پری درکوی،

- که چیری تحقیق بی د ستا له اقراره پای ته ورسیږی نو ستا په مقاومت او قدرت به نوره هم مثبته اغیزه وکړی،
- که چیری تحقیق کوونکی په یوه نقطه کی شکست وخوری نو خپلی هڅی بیا له سره شروع کوی او ته هم هر ځل هغه ته شکست ورکړه،
- که چیری تحقیق کوونکی مامور بدل شو نو پوه شه چی ته کامیاب شوی یی او دوهم تحقیق کوونکی خپل کار په ضعیفی روحیی شروع کوی ځکه تا پخوا ددوی یو تکړه ملګری مات کړی، نو له همدی امله خپل مقاومت زیات کړه ځکه تحقیق کوونکی د خپلی بی ایمانی او خیانت له وجی یوازی او یوازی یوه مجاهد ته په ټیټ سر ناست وی،
- د تحقیق کوونکی طریقی یو امتحان یا یوه غلطی کیدلی شی او دا به ته یی چی دده کامیابی او یا شکست به انځوروی،
- که چیری دوی کامیاب نشول چی له تا څخه اقرار واخلی نو تا به داسی یوی خونی ته یوسی چی هلته به په ګډه توګه مجاهدین او جاسوسان موجود وی، له دوی سره د خبرو اترو پر وخت ډیر احتیاط وکړه او فکر وکړه چی دوی هم ټول تحقیق کوونکی دی،

⇐ د تحقیق کوونکی د تحقیق طریقی:

- تحقیق کوونکی عملی ابتکار نلری بلکی دده طریقی ټولی معلومی او تکراری دی، هغه به هر وخت تاته داسی ښکاروی چی دی یو تکړه روانشناس او ارواپوه دئ تر څو په تا تسلط پیدا کړی، خو ته د عمل ډیره آزادی لری، سرکش واوسه، شکست ورکړه او هر وخت پری مسلط اوسه،
- تحقیق کوونکی به درته وایی چی مونږ تر هر وخته وغواړو تا له ځان سره ساتلی شو او درته وبه وایی چی زما خوشحالول به ستا په ګټه وی، دروغ وایی!! دده اختیارات محدود دی، که تا ددغه شیطان په خبرو باور وکړ نو پوه شه چی دده په دام کی ولویدلی،
- کله کله به دی له تاسره له موضوع وتلی خبری کوی تر څو وکولی شی ستا له حاشیو څخه مهم او رازلرونکی اطلاعات تر لاسه کړی او په نتیجه کی دوی داسی شیانو ته لاسرسی پیدا کړی چی ستا په مقابل کی یی ستا د سخت شکست لپاره وکاروی، نو له همدی امله له تحقیق کوونکی سره خبری مکوه او دده هری خبری ته باید خواب ورنکړی تر څو دغه فرصت ده ته لاسته ورنشی،
- که چیری ته د مهمو رازو له ویلو ډډه وکړی نو دی به هڅه وکړی چی له تا څخه د ساده او سطحی شیانو په اړه پوښتنه وکړی، مثلا په فلانی ځای او یا فلانئ ناسته کی تاسی څه وخوړل او یا وڅښل؟؟ پداسی حالت کی هم هغه ته معلومات مه ورکوه ځکه ممکنه ده چی دغه ډول اطلاعات ستا د نورو بندی ملګرو په ضد وکاروی او د هغوی د اقرار لامل شی او لوی رازونه افشاء شی،

تحقیق کوونکی چی له تا پاڅیده نو ستا نورو ملګرو ته ورځی او هغوی ته وایی چی په هغی ناستی کی دی له ټولو خبرو خبر دی حتی پدی هم پوهیږی چی په هغی ناسته کی تاسی څه خوړلی او یا څه څښلی، احتمال لری ستا نور ورونه چی دا واوری نو دده په خبرو فریب وخوری او خولی خلاصی کړی، نو د همدی لپاره مقاومت وکړه او د ډیرو کوچنیو معلوماتو له ورکولو هم ډډه وکړه،

- تحقیق کوونکی خپل سوالونه بیا او بیا تکراروی تر څو ووینی چی ستا په خبرو کی څومره غلطی او تناقض موجود دی،
- ستا د خپلوانو او یا کورنۍ په نیولو باید ته ونه ویریږی، ددوی له شرموونکو طریقو څخه یوه هم د ښځی او یا ستا د کورنۍ شکنجه کول دی، په الله تعالی توکل وکړه ځکه ته د الله تعالی د دین په نصرت کی نیول شوی یی، هماغه غیرتی ذات به ان شاءالله تعالی ستا له کورنۍ او دوستانو څخه هم حفاظت وکړی،
- بعضی تحقیق کوونکی بد اخلاقه او تند خویه وی او بعضی بیا مهربان او آرام خلک وی، دا ځکه چی دوی له خپلی خوا تاته عطوفت دربنیی تر څو ددوی په خبرو وغولیږی او فریب وخوری، له دوی سره هیڅکله مرسته مکوه، دوی ټول مجرمان، جنایتکاران او وحشیان دی او د ټولو هدف یو دی، یعنی تر څو چی ته اقرار ورته ونکړی، خپل دین، دعوت او جهاد خرڅ او له لاسه ورنکړی دوی به له تا څخه راضی نشی،

- تحقیق کوونکی به هڅه کوی چی په تا شوی تورونه کوچنی وښیی او حتی شاید په مجازاتو کی د تخفیف او همکاریٔ وعدی درسره وکړی، تاته به ووایی چی دغه د اقرار اخیستلو لپاره مونږ نکوو بلکی یوه ساده محاوره ده تر څو ستا دوسیه وتړو.... فکر دی ونیسه!! هیڅکله ددوی په خبرو غلط نشی،
- دوی به هڅه کوی چی تا د خپل خلاصون په فکر کی واچوی او دربښیی چی ستا اقرار ددی لیاری آخر ده او له دوی سره د همکاری په صورت کی به آزاد شی، متوجه اوسه!! چی ددوی د خبرو فریب ونه خوری،
- دی به کوشش کوی چی تا خپلو استادانو او ورونو په اړه بدبین کړی، ددوی د هری خبری په ځواب کی ته باید سکوت وکړی او یا ورته ووایی چی زه له داسی ډلی او یا خلکو سره هیڅ رابطه نلرم او نه یی په اړه څه نظر لرم،
- ددوی یوه بله طریقه به دا وی چی تا تحقیر کړی، په زرګونو فاحشی او ناوړه خبری چی زمونږ په ټولنه کی به بدبویه خبری وی درته وکړی، مثلا درته وایی به چی (ته هیڅ هم نه یی) دغه توهینونه وزغمه ځکه ددوی مطلب او هدف یوازی او یوازی له تا څخه اقرار اخیستل دی،
- تحقیق کوونکی دین ته هیڅ احترام نکوی، خو بعضی تحقیق کوونکی د زندانیانو په زړونو کی د شک او تردید د اچولو لپاره دینی مطالعی هم لری، او کله کله د بندیانو په منځ کی د تفرقی

لپاره ددوی په عقایدو حملی کوی تر څو دوی د یو او بل په اړه تحقیق کوونکیو ته معلومات ورکړی،

- تحقیق کوونکی بی دلیله او بی جهته که ناست وی که ولاړ تا وهی، دوی څکه داسی کارو ته لاس اچوی څکه چی دوی شکست خوړلی او یا ددی لپاره چی ته به له وهلو ویریږی، نو دوی به هڅی کوی چی په زوره تا اقرار ته مجبور کړی،

⇐ هغه وسایل چی تحقیق کوونکی یی پخپل واک کی لری:

- تا به له نورو څخه بیل او تاته به داسی وښیی چی تحقیق پای نلری، تا به په مختلفو ډولونو تهدیدوی، ښکنځلی او بدی خبری به درته کوی، ستا د بدن حساسی برخی به وهی، څو شپی او ورځی به تا نه پریږدی تر څو ویده شی، دغه ټولی پیښی په اعصابو کی د اختلالاتو سبب کیدلی شی او د ستړیا له وجی ممکن د څو ثانیو لپاره ستا ماغزه له فعالیته ولویږی، تحقیق کوونکی به له همدی څو ثانیو څخه په ګټی اخیستلو به په تا نور هم فشار زیات کړی، هیڅکله تسلیم نشی، مه ویریږه څکه دا شیبی تیریدونکی دی، پداسی حالت کی له تحقیق کوونکی سره خبری مکوه بلکی د الله ذکر کوه څکه الله تعالی فرمائی: [یا أیهاالذین آمنو اذا لقیتم فئة فأثبتو واذکروالله کثیرا لعلکم تفلحون] ژباړه: ای مؤمنانو! کله چی د (دښمنانو) له کومی ډلی سره مخ شولی نو پایداری او مقاومت وکړی او د الله یاد ډیر وکړئ تر څو کامیاب او خوشحاله شئ،

په یاد لره چی ستا مقاومت ستا د سنګر او عقیدی ملګرو ته ډیر ارزښت لری،

- کله چی تاسی له عصبی اختلالاتو سره مخ شئ نو پدی وخت کی تحقیق کوونکی ستاسی د پښنو او لاسو په ګوتو، غوږونواو یا په جنسی اعضاؤ بی رحمانه وارونه کوی، او یا به ستاسی ویښتان کشوی، ډیر ژر ژر ستا په جسم کی د وهلو ځایونه بدلوی تر څو په تا د ویری او وحشت حالت راشی، دا به تول پای ته ورسیږی هغه هم انسان دی او آخر هم ستړی کیږی، په آخر کی هر څه ستا په مقاومت پوری اړه لری،

( ان تکونوا تألمون فانهم یألمون کما تألمون وترجون من الله ما لا یرجون وکان الله علیما حکیما)

ژباړه: که چیری تاسی دردیږئ نو هغوی هم ستا په څیر دردیږی او ځوریږی (خو ستا او د هغه په منځ کی فرق دادی چی) تاسی له الله تعالی څخه هغه څه غواړئ چی دوی یی نه غواړی (چی هغه د الله تعالی رضا او همیشنی جنت دی) او الله تعالی (ستاسی او د هغوی له اعمالو) خبر دئ او حکیم دئ ( او ستاسی هر یوه ته ستاسی دعمل سزا او جزا رسیږی)

- تحقیق کوونکی په آخر کی موظف دی چی له دغو دریو خبرو څخه خپل راپور ترتیب کړی،

۱- تورن بی ګناه دی، ۲- تورن د مدارکو او شواهدو پر موجودیت بیا هم قصد لری چی خبری او اقرار ونکړی، ۳- تورن له خپلو

دوستانو سره خیانت وکړ او ټول رازونه یی افشاء کړل...نو هڅه وکړه چی له دریم کس څخه حساب نشی،

## ⇐ شکنجه او ستا مقاومت:

- تحقیق کـوونکی که هر څومره ظالم او وحشی شی بیا هم مقاومت امکان لری، ځکه مقاومت داسی څه ندی چی ته یی د زده کولو لپـــــــاره پوهنتـــــون ته لاړ شـــــــــــی،

## ⇐ څرنګه مقاومت وکړم؟

- په الله تعالی اعتماد وکړه او په یاد ساته چی ته د همغه لایزال ذات د دین د نصرت پخاطر دلته یی، د همدی لپاره هغه غیرتی ذات تا یوازی نه پریږدی او ستا حفاظت کوی، ستا مقاومت به ستا د مجاهدینو وروڼو د نیولو مخنیوی وکړی، هغو علماؤ، داعیانو او مجاهدینو چی له تا څخه یی مخکی په همدی خونو کی مقاومتونه کړی یاد ته دروله، همدارنګه په یاد ولره چی دا یوازی ته نه یی چی شنجګه او آزاریږی، د اقرار په کولو به حتی ستا دښمن هم تاته په حقیره او ټیټه سترګه وګوری،
- که له نیول کیدلو مخکی په رښتیا هم په شهادت پسی په دشتو او غرونو کی ګرځیدلی او تر ټولو لوی ارمان دی دا وو چی په بم او مرمۍ ټوټه ټوټه او وسوځول شی نو ولی باید دلته وویریږی؟؟ ځکه د همدغو ربړ، تکالیفو او د شهادت د نعمت موقع الله پاک دلته هم درکړی، که چیری له مبارزی او جهاد څخه ستا هدف او

مقصد شهادت یا کامیابی وه نو ولی باید دلته له یو څو وارونو او ضربو څخه وویریږی چی ستا د مرګ سبب هم نه ګرځی؟؟ که چیری دا ستا د مرګ سبب هم شی نو آیا شهادت ستا پخوانی آرمان نه وو؟؟

- تحقیق ستا د جهادی مبارزی یوه برخه ده چی د مقاومت په صورت کی به غالب یی، په دوو پښو د بیخوبۍ په حالت کی ودریدل بمونو، مرمیو او توغندیو ته نشی رسیدلی،
- شکنجه هم ستا د قتال یوه برخه ده، ددغه ډول قتال نتیجه د مجاهد د شخصیت او د هغه د ایمان او لوړو ارادو په لاس کی ده، پدی ځای کی مقاومت او ثبات تا الله تعالی ته نږدی کوی چی پدی توګه هغه وعدی چی الله تعالی له مؤمنانو سره په آخرت کی کړی لاسته راوړی، ستا دغه ډول ایمان ستا له مقاومت سره نوره مرسته هم کوی چی په نتیجه کی به تحقیق کوونکی مغلوب، خوار او ذلیل کړی،
- هیره نکړی چی ستا د شکست او کامیابی په منځ کی یوازی او یوازی د یوه ساعت د صبر فاصله ده، ځان او خپلو پښو ته باید تسلی ورکړی چی ای بیوزله پښو طاقت وکړه چی خبره نوره خلاصه ده،
- اول ځلی مقاومت ددی لامل کیږی چی بل ځل ته کار آسانه کړی، د همدی لپاره هر ځل تحقیق کوونکی په سرکشی او مقاومت ناکام کړه،

- ضعیف الایمان خلک خپلې ګټې د ډلې له ګټو مهمې بولي، خو له اقرار څخه وروسته نه یوازې دا چې په زندان کې پاتې وي بلکې نور ملګري هم له ځان سره سوځوي،
- که ناڅاپه غلط شوی او اقرار دې وکړ نو ډېر ژر بیرته راوګرځه او بیا سرکشي وکړه منکر شه تر څو داسې نشي چې ستا شکستونه یو په بل پسې راشي او بالاخره له نه خوښوونکې سرنوشت سره مخ شې،
- په تحقیق کې ناکامي او سقوط جهادي فعالیت او افضلیت له لاسه ورکوي چې الله مکړه دا پدې معنی چې د الله له دښمنانو سره د هغوی په صف کې ودریدلی، پدې برسیره ددغې غلطۍ قیمت به هم د محکومیت په شکل اداء کوې او ستا د خلاصون سبب به هم نه کیږی، که چیری ته د مرتد حکومت مزدور نه یې خو عملا به دې د یوه جاسوس په څیر عمل کړی وي او د خپلو ملګرو د نیول کیدلو باعث به ګرځیدلی یې،
- که اقرار وکړې نو ته او ملګرې چې تا افشاء کړې په اور کې وسوځې، خو که صبر او ثبات وکړې نو د لږ وخت لپاره به شکنجه شې بلکې ستا د آزادی لامل به شي،
- صبر یو ارادي امر دی او د جسم په ضعیفوالي او قوي والي پورې نده تړلې،
- په هیڅ شاهدی مه ورکوه، د یو چا نیول کیدل تا دې کار ته نه مجبوروي،

- له تحقیق کوونکو سره مه مخامخ کیږه که یی کوم بل بندی له تا سره مخ کړ نو هغه د مقاومت په طرف تشویق کړه تر څو له خپلی شاهدی واوړی،
- د هر ډول تهدید حتی هلته د بی عزتۍ په مقابل کی یوازینۍ عکس العمل هماغه صبر او استقامت دی، حتی که چیری یی ستا په کورنۍ د تجاوز تهدید هم وکړ نو صبر اختیار کړه او پدی پوه شه چی د هغوی وظیفه ډیره محدوده ده چی نشی کولی له هغو محدودیتونو پښه آخوا واړوی، پدی صورت کی به هم ستا اعتراف ستا له کورنۍ سره کومه مرسته ونکړی بلکی دا تهدیدات به ستا د ضعف نقطه وی چی دوی به ګټه څنی اخلی، ډیر او ډیر فشار به په تا راولی خو ستا اقرار به دغه فشارونه او تهدیدونه نور هم اضافه کړی،
- په یاد لره چی تحقیق په حقیقت کی د عقیدی، جهاد او هغو ارزښتونو زیاتیدل دی چی الله ته خوښ وی خو د معاش خور تحقیق کوونکی پر باطل وفا او د هغه د بی ایمانۍ زیاتیدونکی ده، نو پر ځای خبره ده چی ته باید کامیاب شی ځکه ته د عقیدی او الله ته د نږدی کیدونکیو لوړو اهدافو لپاره مبارزه کوی او تحقیق کوونکی د میاشتنی معاش او طاغوتی منصب لپاره،
- تحقیق د جهاد له میدانونو څخه یو میدان دی، جهاد په غره، دښتو او یا زندانونو کی جریان لری او د عقل تقاضا داده چی ته باید

کامیاب شی ځکه ستا ثابته عقیده او د الله پاک حفاظت تاته اطمنان، سکون او صبر دربخښی،

- د درواغو معلومولو دستګاه خپله درواغجنه او د درواغجنو په لاس جوړه شوی یوه دستګاه ده او په ډیره سادګی یی غلطولی او ګمراه کولی شی، که له دغی دستګاه سره مخ شولی نو د هری خبری د ځواب ورکولو پر مهال اوږو او یا پښو ته حرکت ورکوه او یا د تحقیق پر مهال پداسی شیانو کی فکر وکړه چی تا خفه کوی او یا غصه کوی دی، په آخر کی به دستګاه لدی عاجزه شی چی ستا غمونه، فکرونه ستا له درواغو څخه بیل او او تشخیص کړی،

**⇐ د تحقیق پر مهال د شکنجی بعضی طریقی او روانی جنګ:**

- شکنجه خپله یو هدف ندی بلکی دغه اصلی هدف ته یوه وسیله ده چی هغه هدف ستا اقرار دی،
- په یاد لره چی کوم وهل او ټکول چی ته خوری اقرار کوونکی یی هم خوری، خو فرق پکی دادی چی په آخر کی اقرار کوونکی پښیمانه وی، له جسمی دردونو او ټپونو څخه د زړه تسکین او د کامیابی خوند ډیر ارزښت لری، جسمی او ظاهری دردونه له هغه دردونو څخه ډیر بهتر دی چی وروروسته ستا زړه او ملګری دردوی او ستا پښه غتیو او خطرناکو قضایاو ته کشوی چی هغه ستا اقرار دی،

**⇐ د تحقیق پر مهال د فشار سطح:**

- د تحقیق پر مهال ممکن ستا خپلوان او یا کورنۍ هم حاضر کړی تر څو په تا فشار راوړی تر څو اقرار وکړی، پدی مطمین اوسه چی ستا اقرار هغوی ته کومه ګټه نشی رسولی بلکی که پدی حالت کی تا ضعف وښوده نو په هغوی به نور هم فشارونه زیات شی،
- تحقیق کوونکی به ستا په خلافت یو روانی جنګ په لیاره واچوی، تاته به داسی ښیی چی دده په مقابل کی مقاومت کول ناممکنه خبره ده هر څوک دده په مقابل کی تسلیم شوی او ته هم له نورو سره هیڅ فرق نلری، درته وایی به : (خبری وکړه تر څو له ځور څخه وژغورل شی) هغه به هڅه کوی تر څو ددوی په ګمان په تا کی د اقرار معقول فکر رامنځته کړی او له تا څخه مخکی نورو خلکو چی اقرار ورته کړی درته حساب کړی، تر څو داسی فکر وکړی چی (اوس چی ټولو اقرار کړی زه به یی هم وکړم) خو ددوی دغه روانی جنګ یوازی د ضعیفو خلکو په مقابل کی کار ورکولی شی او د قوی ایمان او عقیدی سړی ته ټوکی او تشی خبری ښکاری،
- دا ومنه چی وهل ټکول حتمی دی، اقرار کول نه یوازی دا چی له تاسره په خلاصون کی کومک نشی کولی بلکی ستا خبره نوره هم لویوی،
- ستا په مقابل کی یی که هر څومره اسناد، دلایل او راپورونه وړاندی کړل ته استقامت کوه، که هر څومره ددوی اسناد او دلایل قوی وی بیا هم کولی شی انکار تری وکړی، یوازی او یوازی خپله اقرار یو تورن شی ده چی تا به محکوموی، ستا په اړه د

نورو اقرار او په تا شاهدی ویل تر ټولو ضعیف ثبوت او سند بلل کیږی، هغوی به تاته وایی چی ستا دوستانو او امیرانو اقرارونه کړی او یا ممکنه ده چی ستا تر مخ ستا ملګری اقرار او یا شاهدی ورکړی خو ته مقاومت وکړه ځکه ددوی اقرار د جهاد د سقوط په معنی نده، ستا خپل اقرار به ستا په مقابل کی تر ټولو لوی دلیل او ثبوت وی او ستا په اړه د نورو له اقرار څخه هیڅ ویره مه لره،

- ستا د مقاومت په نتیجه کی تحقیق کوونکی سوالونه بدلوی تر هغو چی په تمامه معنی شکست وخوری،
- د وهلو ډبولو لاندی ستا اقرار تحقیق کوونکی نور هم هڅوی تر څو تا ووهی او ته لا ډیری او د اصل مقصد خبری ورته وکړی، ستا له اقرار سره به د هغه کار پای ته ونه رسیږی بلکی تا به د نورو ملګرو په مقابل کی هم هڅوی تر څو هغوی هم اقرار کولو ته تسلیم شی،
- یوه بله وسیله چی تحقیق کوونکی یی ممکن د تحقیق پر مهال وکاروی هپنوتیزم یا د درواغو معلومولو آله ده، مطمین اوسه چی ددغی آلی شواهد هم ستا په مقابل کی دلیل او ثبوت نشی کیدلی او کوم خطر تاته نشی پیښولی دا صرف یو روانی جنګ دی چی هلته به ستا په مقابل کی په لیاری اچول کیږی،
- د درواغو معلومولو آله ستا مرستی ته ضرورت لری چی ته هم ډډه تری وکړه، یو بل څه هم چی باید پری پوه شی داده چی یو انسان په مقناطیسی خوب ویده کول او اقرار ته مجبورول هسی

تشی خبری دی، نو که چیری یی تاته وویل چی د هپنوتیز په حالت کی تا اقرار وکړ نو دوی دروغ وایی، پدی کار دوی هڅه کوی چی ستا په اړه هغه معلومات چی پخوا جاسوسانو راټول کړی وو پر تا ستا له ژبی تائید کړی او بس،

- د درواغو د معلومولو آله هم یو چل او فریب دی، ددغی دستگاه وظیفه داده چی بعضی هغه کارونه او فعلونه چی د درواغو ویلو په وخت ستا په بدن کی راځی تشخیص کړی، ددغی آلی په مقابل کی کولی شی چی د خپلو درواغو ځوابونو پر مهال د پښو او یا اوږی عضلات منقبضی کړی او یا پدی مهال د غمجنو خاطرو یاد خپل ذهن ته راولی لکه ستا شهید ملگری وغیره.....پدی ډول ته کولی شی چی د وارخطائی او یا اضطراب په حالت کی د درواغو معلومولو آله گمراه کړی او دغه آله ونشی کولی تر څو ستا احساسات او حرکات تشخیص کړی،
- هیڅ داسی مخدره مواد یا هپنوتیزم په نړۍ کی ندی موجود چی له استعمال وروسته یی سړی جبرا خپل رازونه افشاء کړی، نو که چیری یی تاته وویل چی د بیهوشۍ یا د نشی پر مهال دی اقرار وکړ نو باور مه پری کوه،
- تحقیق کوونکی به ستا دوه حسونه (د لیدلو او اوریدلو) د اذیت او شکنجی لاندی ونیسی مثلا په تا به لوړ آوازونه اوروی یا به د نورو بندیانو د شکنجی او اذیب فلمونه دروښیی تر څو د خپلو

اعصابو واک او کنترول له لاسه ورکړی، د الله تعالی یاد، جهادی او ایمانی روحیه او ستا مقاومت به دا هر څه ناکام کړی،

- اوږد مهاله تحقیق، په کوچنۍ خونه کی ستا ساتل چی په کښیناستو او ویده کیدو به پکی قادر نه یی چی پدی مهال کی به تحقیق کوونکی ستا له اقرار څخه وروسته تاته د خوب کولو د اجازی وعده درکړی، بالاخره خوب به د بیهوشۍ او یا فکر کولو په ډول درته ښکاره شی بی لدی چی ستا ژوند او یا مغزو ته کوم تاوان ورسوی، نو له همدی امله د تحقیق کوونکی وعدی ته تسلیم نشی او اقرار ونکړی،
- ستا تر ټولو کوچنۍ ضعیفی به تحقیق کوونکی د لا زیاتی شکنجی په طرف وهڅوی، نو له همدی امله د شکنجی پر مهال تحقیق کوونکی سره هیڅ وعده ونکړی چی د شکنجی د کمولو په صورت کی به خبری او یا اقرار وکړی، ځکه تحقیق کوونکی دغه کار ته لا زیاته ادامه ورکوی تر څو ټولی خبری او رازونه افشاء کړی،
- تحقیق کوونکی به تا کوچنۍ او مرداری خونی ته بوزی چی هلته به نور خلک هم شتون ولری، لدی چی دغه خونه کوچنۍ ده په خوب کولو به د څو ورځو او یا شپو لپاره قادر نه یی، یا دغه خونه پاکه کړی، همدلته به ستاسی قضاء حاجت هم ترسره کیږی، ممکن دغی خونی ته بدبویه سپری در وپاشی تر څو ستاسی خولی ورسره ګډی شی او فضاء نوره هم بدبویه شی، له اوبو او غذا

ځخه به محروم شي، وحشتناک غږونه به دربانډي واورول شي، ددې لپاره چې ته د همدې خونې د عذاب عامل يې نو ستا د خونې نور ملګرې به له تا ځخه وغواړي چې لدې وحشتناک حالت ځخه د وتلو لپاره اقرار وکړه، تا به د فشار او تهديد لاندې ونيسي، پداسې ځايو کې کله کله جاسوسان هم موجود وي چې ستا په غوږ کې هر وخت دا خبره درڅخوي چې زه اقرار ته حاضر يم او نور تحمل نشم کولی، خو دغه خبرې به ستا د باطن د ګډوډۍ لپاره وي، خو که مقاومت وکړې نو تحقيق کوونکي به لدې وروسته خپل کار په شک او تردد شروع کړي،

- د تحقيق پر مهال به له دوی ځخه بعضې اهانتونه او بنکنځلې واورې، خو باخبر اوسه چې ذلت د بې شخصيته تحقيق کوونکي د شکنجې لاندې په خرابو خبرو کې ندئ بلکې ستا اقرار، د ملګرو د رازونو افشاء کول او جهادي امورو ته زيان رسول حقيقي ذلت دی،
- په ياد لره چې تحقيق او ځورونه يوه ورځ پای ته رسيږي، نو همدا ته به وي چې د اقرار کولو په صورت کې به ته، خوار، ذليل، خائن او په بند محکوم يې، او يا به داسې يو قهرمان يې چې د نورو مجاهدينو، آينده نسل او د جهادي فعاليتونو د افتخار سبب به وي، نو بهتره به وي چې تحقيق بې له تر ټولو کوچنې معلوماتو ورکولو ځخه هم پای ته ورسيږي،

⇐ **د تحقيق پر مهال جاسوسان:**

- يو واقعيت (د جهاد موجوديت يعنى د مخالف قوت موجوديت، د مخالف قوت موجوديت يعنى د استخباراتو موجوديت، د استخباراتو موجوديت يعنى د جاسوس موجوديت،)
- اقرار كوونكى يعنى يو حقير او پايمال شوى موجود، د اقرار كوونكى له معلوماتو او اطلاعاتو چې هر ځاى وغواړى كار ترى اخيستلى شى، اقرار كوونكى ددوى تر مخ د يوى جوړى بوټانو حيثيت لرى، تر هغو چې دغه بوټان زاړه شوى نه وى دوى به يى استعمالوى، له زاړه كيدلو وروسته چې دده د استعمال وخت خلاص شى نو له هغى وروسته يى په اشغال دانى (زندان) كى اچوى،
- د جاسوس د ژوند ټول هدف دادى چې هغه څه لاسته راوړى چې استخبارات يى ترى غواړى، جاسوس هر وخت تهديدېږى چې كه چيرى سمه همكارى ونكړى نو دده مخ به جامعى او كورنۍ ته افشاء شى، يا زندانى كيږى او يا وژل كيږى،
- استخباراتى كړۍ تر هغو چې يو جاسوس كثيف او بى لارى نكړى تر هغو سمه او حسنه رابطه ورسره ساتى، خو كله چې په مردارى كى په كافى اندازه غرق شى نو بيا هغه پخوانۍ وعدى او قسمونه ټول د پښو لاندى كيږى چې له دغه ډول معاملى سره هر جاسوس مخ شوى،
- د دښمن استخباراتى كړۍ هڅه كوى تر څو يو جاسوس تر آخرى حده له اجتماعى او اخلاقى لحاظه ساقط كړى، تر څو خپل ځان له

جامعې او خپلو ورونو څخه بېل وبولي، استخبارات هڅه کوي تر څو له جاسوس څخه يوازې د پيسو ګټلو سړی جوړ کړي، ځکه يوازې همداسې خلک له خپلو دوستانو سره خيانت کولی شي،

- استخباراتي کړۍ چې له يو چا څخه جاسوس جوړوي له هغه سره ډېر کثيف او نا ځوانه کارونه ترسره کوي، مثلا هغه ته پيسې، پاسپورټ او وسله ورکوي يا هغه ته د غير اخلاقي کارونو زمينه مساعدوي او بيا په پټه له هغه څخه عکسونه او فيلمونه اخلي، له هغې وروسته هغه تهديدوي چې د همکارۍ د نه کولو په صورت کې به عکسونه او يا فلمونه افشاء کړي،
- استخباراتي کړۍ له دغه جاسوس څخه ستا د تحقيق پر مهال ګڼې ګټې اخلي، له هغه څخه غواړي چې مختلف رولونه ولوبوي، مثلا له جاسوس څخه غواړي چې له ځانه مجاهد جوړ کړه او تورن کس ته ځان نږدې کړه، يا دداسې يوه کس رول ولوبوه چې ګواکې د شکنجې نور تحمل نلري او اقرار کوي تر څو ستا روحيه هم ضعيفه کړي،
- دغه ډول جاسوسان کله کله له تورن کس سره په يوه خونې کې اچول کيږي او داسې ښوونه ورته کوي چې ګواکې يو کلک مجاهد دئ تر څو ستا توجه ځان ته راواړوي او له تا څخه معلومات ترلاسه کړي، يا د يو داسې زنداني رول لوبوي چې نور نا اميده شوی او تيار دی چې ټول رازونه افشاء کړي، يا د يوه بې ګناه سړي رول لوبوي چې له کم وخت وروسته به آزاد شي ځکه دده

په مقابل کی کوم سند وجود نلری، نو له تا څخه به وغواړی چې یو پیغام او یا یو لیک که خپلو دوستانو ته استوی نو دا کار به دی درته وکړی، لدی کار څخه ددوی هدف د تورن د جهادی روابطو معلومول دی،

## ⇐ د تحقیق پر مهال او یا له زندان څخه دباندی د جاسوسانو وظیفه:

- له نیول شویو کسانو د اطلاعاتو تر لاسه کول او د تحقیق پر مهال استفاده تری کول،
- د بندی په توګه ځان تورن ښودل تر څو جاسوسی وکړی او یا د مجاهدینو روحیه ضعیفه کړی،
- (لَوْ خَرَجُوا فيكُمْ ما زادُوكُمْ إِلاَّ خَبالاً وَ لَأَوْضَعُوا خِلالَكُمْ يَبْغُونَكُمُ الْفِتْنَةَ وَ فيكُمْ سَمَّاعُونَ لَهُمْ وَ اللَّهُ عَليمٌ بِالظَّالِمينَ) ژباړه: (که چیری هغوی له تاسی سره (د جهاد لپاره) راووتل، نو د شر او فساد له زیاتولو نور څه نکوی او ستاسی په منځ کی په سرعت حرکت کوی تاسی ته په فریب درکولو او له دین څخه په اړولو مشغول وی، ستاسی په منځ کی داسی کسان هم شتون لری چې د هغوی خبرو ته غوږ نیسی، الله تعالی ظالمان ښه پیژنی( او ددوی له منځه له فاسق او فاجر څخه باخبره او ددوی په پټو او معلومو حرکاتو باخبر ذات دی)
- جاسوس د دعوت او جهاد په صفونو کی نفوذ کوی چې پدی توګه ډیرو مهمو رابطوی خلکو څخه مهم معلومات لاسته راوړی،

- د زندان په مختلفو ناستو او مجلسونو کی نفوذ کوی او ددوی په منځ کی دښمنی او درز اچوی،
- زندانی شویو امیرانو او مشرانو ته نږدی کیدل تر څو مهم او فوق العاده معلومات ترلاسه کړی، د مخلصو او ښو خلکو په اړه بدګمانی راپیدا کول، او د هغو کسانو په اړه چی نوی نیول شوی معلومات راټولول تر څو د تحقیق پر مهال ګټه تری واخلی،
- د زندانیانو تر منځ د اختلاف او درز منځ ته راوړل تر څو دوی له اصلی دښمن څخه غافل او پخپلو منځو کی جګړی وکړی،
- زندانی جهادی امیران او مشران معمولا په زندان کی مخلص ملګری ته اړین وی پدغه حالت کی جاسوسان هڅه کوی تر څو دغه مقام ته ځان ورسوی، جاسوسان دغه ډول رول ډیر ښه لوبوی او ټولی پټی رابطی کشفوی،
- نو له همدی امله په زندان کی خپل ټول رازونه او اسرار له خپل ځان سره وساته او تر ټولو اعتمادی کس ته یی هم مه وایه ځکه پداسی ځای کی په چا اعتماد کول احمقانه کار وی، یو چا څومره ښه ویلی (که خپله نشی کولی چی خپل رازونه وساتی نو له بل څخه څنګه توقع لری چی ستا رازونه تاته وساتی)، په زندان کی که ستا ملګری مخلص مجاهدین وی نو ستا د حفاظت په خاطر تا د خپلو معلوماتو له نه ویلو څخه نه ملامتوی، هغوی ستا په اړه معلوماتو ته هیڅ ضرورت نلری ځکه هر څوک چی څومره کم پوهیږی بهتره ده،

- هغو خلکو چې اقراروونه کړی ځان لیری تری ساته ځکه په دغه ډول خلکو کی د جاسوسی احتمال ډیر زیات وی، ځکه دغه ډول خلک حتی د ډیرو کوچنیو او ماشوم ډوله وعدو په مقابل کی هم له تا څخه جاسوسی ته غاړه ږدی، مثلا: ده ته وعده ورکول کیږی چی که چیری له فلانی مجاهد بندی څخه جاسوسی وکړی نو تاته به ستا د کورنۍ له یوه غړی سره د ملاقات اجازه درکړل شی، یا ته به وکولی شی چی یو خط واستوی یا به ستا په مجازاتو کی تخفیف راولو او یا به دوه درۍ سیګرټه درکړو،
- له تحقیق څخه وروسته هم باید خپل معلومات او رازونه پټ وساتی، ځکه دښمن پدی قادر دی چی بی له وهلو ډبولو، روحی فشار او شکنجی څخه له تا څخه اقرار واخلی،

## ⇐ اقرار:

- په استخباراتو کی چی هر څه موجود دی که هغه عسکر دی او که اطلاعاتی افراد او مامورین دا ټول یوه هدف ته د رسیدلو لپاره دی، هغه هم له تا څخه د اقرار اخیستلو هدف دی، تر څو ستا همدا اقرار ستا په مقابل کی وکاروی او تا محکوم کړی،
- دا مه هیروه چی تحقیق، درد، وهل ډبول به خلاص شی او دا به په یوی خاطری بدل شی، ته کولی شی چی له دغه فرصت څخه په دنیا او آخرت ګټه پورته کړی او په یوی خوږی خاطری یی

بدل کړی، او یا یې پداسې یوې خاطرې او فرصت بدل کړي چې تا به نهایتا زندان او یا ویرووونکې دوزخ ته ورسوي،

- تسلیمیدل او اقرار د شکست او ناکامۍ حالت ده، تسلیمیدل او خیانت نه بخښونکی حالت او ستا په ټیټ شخصیت دلالت کوي، دغه کار تا د دښمن په نوکرۍ او جاسوسۍ بدلوي، که چیرې ستا اقرار د ډیرو سختو دردونو او شکنجو لاندې هم وي بیا هم خیانت بلل کیږي، دغه ټکۍ ښه خپل ذهن ته واچوه چې اقرار کول به له تا سره هیڅ ډول مرسته ونکړي بلکې د اقرار په وسیله به د خپل حکم پر محکومیت امضاء وکړي، ستا اقرار به تاته او جهادي بهیر ته زیان ورسوي،
- همدا چې تا د شکنجې لاندې خوله خلاصه کړه شکنجه به نوره هم دربانده شدیده کړل شي، ډیر کوچنی اقرار به هم ستا د تحقیق او شکنجې بهیر نور هم اوږد او دردمن کړي او تر څو چې په ټولو شیانو اقرار ونکړې له تا څخه به لاس وانخیستل شي، شاید د لږ وخت لپاره شکنجه دربانده ودرول شي خو یو ځل بیا به دربانده شروع کړل شي، په یاد لره چې د صبر له لاسه ورکول او یا د نورو د اقرار یاد به تاته او ستا وروڼو ته نه بښونکې ضربه درکړي،
- ستا د اقرار یوه نتیجه به ستا د اقرار له وجې ستا د ورور نیول کیدل او بیا ستا ورسره مخامخ کیدل وي، نو یو مجاهد موحد باید د

خپل ورور په لیاره کی ازغی ونه شیندی بلکی همیشه باید د نورو مجاهدینو ګټی له خپلو ګټو څخه مهمی وبولی،

- په وړو خبرو اقرار کول په غټو خبرو د اقرار کولو مقدمه او شروع ده، دغه واړه اقراروته د تحقیق کوونکی په نزد ستا د جرم نښی نښانی بلل کیږی او شاید تحقیق کوونکی د همدغو کوچنیو معلوماتو په تجزیه او تحلیل لویو لویو رازونو او معلوماتو ته لاره پیدا کړی چی حتی ته به یی فکر هم نکوی،
- دا لازمه او مهمه ده چی تسلیمی او اقرار په کامله توګه ستا خپل ارادی او اختیاری کار دی، ستا اقرار او د رازونو افشاء کول به دومره شدید او قبیح عمل وی چی که تر ټولو سخته شکنجه دی هم تیره کړی وای لدی به ښه وه چی اقرار دی نه وای کړی،
- یو مهم واقعیت (اقرار محکومیت او له هغی وروسته زندانی کیدل منځته راوړی خو مقاومت او صبر په نتیجه کی ستا مؤقت بندی کول دی او بس)،
- دا له هیره مه وباسه چی ستا ډیرو نورو ملګرو هم اقرار ندی کړیَ ته هم هڅه وکړه چی د هغوی په ډول شی، هغو خلکو چی اقرار کړی ټول همدا وایی چی په لږ نور مقاومت مو کولی شول چی اقرار مو نه وای کړی،
- تحقیق کوونکی ستا له احساساتو سره لوبی کوی او تاته دا درښیی چی ستا اقرار تاته هیڅ خطر نلری بلکه ستا د دوسیی د بندولو په لیاره کی یو خنډ ګرځیدلی، دغه ټولی خبری درواغ دی او داسی

نه چي د کوم تحقيق کوونکی او یا عسکر په کومی وعدی وغولیږی،

- ستا په اړه د تحقیق کوونکی ډیر معلومات فرضی او ناقص دی او دوی ستا په مرسته او اقرار غواړی چی ستا په خبرو دغه معلومات کامل او صحیح کړی، هغوی هر وخت دا وایی چی په هر څه خبر دی او پوهیږی، خو ته هم هر وخت له ځان څخه دا پوښتنه کوه چی ( که چیری رښتیا دوی ستا په اړه ټول معلومات لری او خبر دی نو ولی یی دلته ساتلی یی؟؟) دوی ستا د محکومولو لپاره په محکمه کی ستا اقرار ته ضرورت لری او پدی توګه غواړی چی هغه معلومات چی ستا په اړه یی لری په اړه یی مطمین شی، نو له همدی امله که چیری هغوی ستا په اړه ریښتونی معلومات هم لری تعجب مه کوه، مه ویریږه او مه وارخطا کیږه، ځکه هغه معلومات چی جاسوس ستا په اړه راټول کړی له هغو معلوماتو سره ډیر توپیر لری چی ستا له خپلی خولی راوځی،
- که چیری تحقیق کوونکی د هغو ورونو په اړه له تا څخه پوښتنه وکړه چی دباندی دی نو د هغوی له رابطی څخه انکار وکړه حتی که پدی هم پوهیږی چی ستا ملګری دی نو پدی صورت کی له هغوی سره د هر ډول شناخت او آشنایی څخه منکر شه، په یو بل څه چی باید پوه شی هغه داده چی که چیری د نورو په اصطلاح غیر قانونی کارونو څخه خبر هم یی او په هغی اقرار ونکړی نو

ددوی په نظر مجرم حسابیږی او محکمه به تا د راپور د نه ورکولو له وجی ونشی کولی تر څو تا په زندان محکوم کړی،

- که دی ونشو کولی چی د ملګرو له رابطی منکر شی نو بیا دا پدی معنی نشوه چی باید اقرار وکړی، بلکی کولی شی چی خپل ماغزه لږ په کار واچوی او دا یوه غلط فهمئ او یا یوه پیښه وبولی چی هغوی سره پیژندګلوی لری، پداسی وخت کی باید پخپلی همدی خبری اصرار او استقامت ولری،
- د نیول کیدو پر مهال هیڅکله د خپلی خونی ملګری ته څه معلومات ورنکړی ځکه امکان شته چی هغوی ستا په اړه اقرار وکړی او یا جاسوس واوسی، له تاسره که یو ریښتونی مجاهد بندی وی هغه ستا په اړه معلوماتو ته هیڅ ضرورت نلری،

⇐ **له تحقیق کوونکی سره د مرستی خطر:**

- د تحقیق کوونکی هدف د مجاهد له منځه وړل او له دوی څخه د اقرار اخیستل دی تر څو یو مجاهد او یو با ایمانه شخصیت په یوه بی ارادی، بی ایمانه او بی هدفه موجود بدل کړی تر څو ددہ دعوت، جهاد او مبارزه ناکامه او عقیمه کړی،
- په یاد لره چی تحقیق کوونکی دغه هدف ته د رسیدلو لپاره هڅه کوی تر څو تا له ځان سره په مرستی راضی کړی، په زور او یا په فریب او چل هڅه کوی تر څو خپل ځان تاته ستا دوست او ستا خیر غوښتونکی وښیی، یا کله کله د جانبی او بی اهمیته خبرو په اړه له تا سره بحث وکړی، له خپلو خاطرو به کیسی درته کوی، دا

ټول ددی لپاره کوی تر څو تاته فریب درکړی او ستا له ژبی هغه خبری راوباسی چی خپل تحقیق یی پری پوره کیدلی شی، ته هلته یو میلمه نه یی او دا ځای هم د پذیرایی ځای ندی نو تحقیق کوونکی هم ستا میزبان نشو، تحقیق کوونکی ستا دوست او ستا آشنا نشی کیدلی، نو د همدی لپاره له هغه سره د خپلو خبرو کڅوړه مه خلاصوه تر څو هغه دام چی تاته یی غوړولی پکی بند نشی، ځکه یو تحقیق کوونکی کولی شی چی بی لدی چی ته پری پوه شی له تا څخه معلومات راوباسی چی بیا یی وروسته ستا او یا ستا د ملګرو په مقابل کی وکاروی، که یی په نورو بی ارزښته مسایلو خبری او یا بحث درسره کاوه ستا ځواب باید دا وی چی (زه له تاسره بی ځایه خبرو کولو ته چمتو نه یم، یا له تا سره خبری کول نه غواړم)

- هر وخت دا له ځان سره یاد ساته او تکراروه چی طاغوتی حکومت هڅه کوی چی ستا د خپلی خولی د خبرو پواسطه محکوم کړی، ستا په ضد د نورو اقرار تاته کوم زیان نشی رسولی، که چیری له تا څخه په کومه خبره کی په غلطی اقرار وشو نو د رئیس په وړاندی بیرته انکار وکړه او خپل کار او فکر له سره شروع کړه، د رئیس په وړاندی ستا د اقرار تائید داسی یو څه دی چی په محکمه کی تری کار اخیستل کیږی،
- رئیس ممکن ځان یو مهربان او خوش اخلاقه سړی دروښیی، تاته به د چای او یا بل څه ست وکړی او له تاسره به په مهربانی

خبري کوي، دا هر څه ددی لپاره کیږی تر څو ته وپوهول شی او فریب درکول شی چی ستا کار دومره جدی او خطرناک ندی او ستا جرم دومره دروند ندی لکه څومره چی فکر کیده، هغه بیا ستا د اقرارونو په لوستلو شروع کوی او په تا یی تائیدوی او پام!!! چی ته یی تائید نکړی، پداسی حالت کی داسی فکر ونکړی چی نوره خبره له خبری تیره ده او استخباراتو له تا څخه اقرار اخیستی او بیا ته خپله خپل اقرارونه دلته تائید کړی او یا دده د خوږو وعدو فریب وخوری، دغه رئیس بی سترګو او بی مخه لیوه ده، کله چی ته په محکمه کی ووایی چی له ما څخه د شکنجی او وهلو ډبلو په زور اقرار اخیستل شوی نو همدا لیوه به درباندی غږ کړی چی( فلانیه زما سترګو ته وګوره! آیا ما وهلی یی؟؟) که چیری خپل اقرارونه تائید کړی نو خپل دښمن ته به یوه لویه تحفه وړاندی کړی، همدا مهربان سړی چی ستا په مخ کی ناست دی په محکمه کی به سترګی پټی کړی او خوله به خلاصی کړی او له قاضی څخه به تاته د سختو مجازاتو غوښتنه وکړی، او دا به ووایی چی ته یو تروریست او خائن یی او د هر رنګه وهلو ډبولو څخه به منکر شی،

- یوازینی کار چی تا له دغو لیوانو څخه ژغورلی شی هغه مطلقا د هیڅ همکاری نکول دی، دغه کار ددوی لاسونه تړی او د ویری کوم دیوال یی چی ستا په ذهن کی رسم کړی راچپه کوی،

- مطمین اوسه چې له دښمن سره کوچنۍ معامله هم خیانت دی چې تابه د تاریخ اشغال دانۍ ته ګوزار کړی، که دی کله هم وغوښتل چې له تحقیق کوونکی سره معامله وکړی نو دا په یاد لره چې تحقیق کوونکی پخپلی هیڅ وعدی وفا نکوی، که یی وویل چې ستا د اقرار په صورت کی به ته آزاد شی نو دروغ وایی، ځکه تحقیق کوونکی هیڅکله نشی کولی چې تا زندانی کړی مګر دا چې اقرار وکړی چې پدی صورت کی به ستا له خولی څخه محکم سند او ثبوت په لاس کی لری، نو بیا به درتهووایی چې ( دا چې تا له خپلو ملګرو سره خیانت وکړ او هغوی دی افشاء کړل د هغوی دلاسه دی بندی کوم تر څو هغوی کوم زیان درته ونه رسوی او یا دی قتل نکړی) هغه ددی لپاره چې ستا په ذهن کی خپل اطاعت در انځور او تحمیل کړی په تا به ساده امرونه کوی لکه پورته شه یا کښینه، ځکه هغه څوک چې ډیر ژر امر منی ژر اقرار هم کوی،
- د سیګرټو عمل ممکنه ده تا د الله تعالی د دښمنانو په مقابل کی ذلیل کړی، ځکه مونږ ډیر داسی بندیان لیدلی چې د یوه دود سیګرټ لپاره ساتونکو او یا تحقیق کوونکو ته سوال او زارۍ کوی، کله کله تحقیق کوونکی ستا د اقرار په بدل کی تاته اجازه درکوی چې پخپلی خونی کی سیګرټ ووهی نو که دغه عمل لری همدا اوس یی پریږده،

- کله کله تحقیق کوونکی تاته د یو دود سیګرټو د وهلو ست کوی او که یی قبول نکړی نو تا وهی، که پورته شی او یا کښینی هم تا وهی نو احتمالا د شکست احساس کوی او یا داسی فکر کوی چی ته له وهلو ویریږی نو په همدی اساس غواړی چی تا همکاری او اقرار ته مجبور کړی،
- تحقیق کوونکی کولی شی چی په تا خوراک او څښاک بند کړی او کولی شی چی تا ووهی، تا وږی، تږی او یا بی خوبه کړی **خو دا نشی کولی چی ستا ژبه په حرکت راولی،**
- ستا تحقیق ورکول هم لکه د کوځو او یا چریکی حملو په څیر یو کار دی، نو له همدی وجی له دښمن سره مرسته مکوه او دا چی ته پخپل قدرت او ثبات ډاډه یی نو حتما کامیابی ستا ده،
- تحقیق کوونکی به تاته په قرآن او یا طلاق قسم درکړی، پدی حالت کی دروغ ویل او یا فریب کول تاته جائز دی، نو له همدی امله هغه جنایتکاران چی الله تعالی او قرآن نه پیژنی یوازینی هدف یی جهادی بهیر ودرول دی ورسره مرسته مکوه، هغه د الله تعالی، قرآن او شریعت دښمن دی، له انس بن مالک څخه د هغه سړی په اړه پوښتنه وشوله چی د بل چا د افشاء کولو لپاره نیول شوی وو چی آیا پدی وخت کی کولی شی چی په درواغو قسم وخوری؟؟ ځواب یی ورکړ چی هو! که اویا ځله قسم وخوری دا به له هغه بهتره وی چی د خپل مسلمان ورور راز افشاء کړی،

- له تحقیق کوونکی څخه هر ډول اطاعت ددی لامل ګرځی چی هغه خپل شوم هدف ته نږدی شی او ستا هر ډول اطاعت به تا د هغه په مقابل کی نور هم ذلیل کړی،
- که څومره کوچنی معلومات هم خپل دښمن ته ورکړی ممکنه ده چی دوی ډیره غټه ګټه تری پورته کړی،
- که دی هر وخت احساس وکړ چی په دام کی لویدلی یی نو بیا انکار وکړه او خپل اصرار له سره پیل کړه،
- مشابه ځوابونه لکه (نه پوهیږم) یا (په هیڅ نه یم خبر) یا (دا مهمه نده) تحقیق کوونکی لیونی کوی او تاته ګټه رسوی ځکه له زیاتو خبرو نوری خبری او سوالونه پیدا کیږی،
- که چیری مجبور شولی چی بل ډول ځواب ورکړی نو داسی ځواب ورکړه چی د نورو سوالونو د پیدا کیدلو لامل نشی، مثلا: که یی وپوښتل چی دا وسله چا درکړه؟؟ نو د داسی یو چا نوم ورته ووایه چی ژوندی نه وی او بی له هغه بل څوک پدی خبری نه وی خبر، تر څو ونشی کولی چی له تا څخه د بل سوال پوښتنه وکړی،
- کله چی تحقیق کوونکی یوه نښه له تا څخه لاسته راوړی نو لاس په سر به نشی او تر آخره به ادامه ورکړی، نو له همدی امله د هغه یوه سوال ته ځواب به د لیاری د خلاصیدو په معنی نه وی بلکه ستا کار به نوی شروع شوی وی،

## ⇐ که يی وپوښتل چی فلانی سړی پيژنی نو بايد څه ډول ځواب ورکړی؟؟

- د (نه) ځواب د نورو سوالونو پر مخ دروازه بندوی، که دی وويل چی هو پيژنم يی، نو دا ځواب به نور سوالونه راولاړ کړی مثلا: د هغه مکمل نوم څه دی؟؟ د هغه د تليفون نمبر څه دی؟؟ په څه ډول موټړ کی ځی؟؟ چيرته ناسته ولاړه لری؟؟ له څومره وخته هغه پيژنی؟؟ په آخرين ځل دی کله هغه وليده؟؟ دغه ليدنه مو چيرته وکړه؟؟ د څه په اړه مو خبری وکړی؟؟ هلته نور څوک حاضر وو؟؟ د هغوی نومونه او نور مشخصات څه دی؟؟ او........
- يوازی د خپل ځان د خلاصون په اړه فکر مکوه، دا مه هيروه چی اقرار او له دښمن سره مرسته کول د لياری پای دی،
- که هر څومره زيات مقاومت وکړی تحقيق کوونکی به له نورو روښانو لیارو څخه ګټه واخلی چی دده دلايل او طريقه به درته بربنډه کړی، پدی صورت کی له ابتکار څخه کار واخله او هغه پريږده چی د خپل کار ورقی واړوی او ته کوچنۍ مرسته هم مه ورسره کوه، ستا استقامت او صبر به ددی لامل شی چی په تا د نورو دلايلو فشار زيات کړی او که ته پوه يی نو د همدی دلايلو له وجی دده د وروستۍ حمله وړاندوينی ته چمتو کيدلی شی،

- د تحقیق کوونکی هره طریقه امتحان او خطا کول دی، نو ته هر ځلی هغه ته شکست ورکړه او پدی مطمین شه چی تحقیق کوونکی ډیر په آسانی ګمراه کولی شی،
- (إِنْ تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ وَإِنْ تُصِبْكُمْ سَيِّئَةٌ يَفْرَحُوا بِهَا وَإِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا إِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ) ژباړه: که چیری (ددوی د آزار او اذیت) په مقابل کی بردباری وکړی او ( له دوی سره د دوستی له کولو) ډډه وکړی، ددوی فریب به تاسی ته هیڅ زیان ونه رسوی، پدی کی شک نشته چی دوی چی هغه څه کوی الله تعالی پری احاطه لری، (او ددوی د شیطانی فریبونو پر دفع کولو قادر دی)
- (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ) (ای هغه خلکو چی ایمان مو راوړی! (د سختیو او کړاوونو) په مقابل کی صبر وکړئ استقامت او پایداری وکړی، خپلو عملونو ته پاملرنه وکړئ له الله تعالی څخه وویریږئ تر څو نیک بخت او خوشحاله شی،

Download from:aghalibrary.cm